د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 491**

(22 - 26 سنبله 1404 هـ ش)

## د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار: جنوبي قفقاز کې د لویدیځ د نفوذ پراختیا او د ایران دریځ

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار: جنوبي قفقاز کې د لویدیځ د نفوذ پراختیا او د ایران دریځ ..... 3
- د متحده ایالاتو، ترکیې او اذربایجان لپاره د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار اهمیت ...... 4
- د ارمنستان دریځ ..... 5
- د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار په اړه د ایران دریځ ..... 6
- پایله ..... 7
- ماخذونه ..... 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار: جنوبي قفقاز کې د لویدیځ د نفوذ پراختیا او د ایران دریځ

### سریزه

په جنوبي قفقاز کې د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار (Trump Rout for International Peace and Prosperity) چې لنډیز یې (TRIPP) دی، د جوړېدو هوکړه لیک د ۲۰۲۵ز.کال د اگسټ میاشتې په ۸ مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو په ولسمشرۍ ماڼې کې د اذربایجان ولسمشر الهام علی اف، د ارمنستان لومړي وزیر نیکول پاشینیان او د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ له لوري د ارمنستان او اذربایجان د سولې تړون په ترڅ کې لاسلیک شو[1]. دغه لاره د ارمنستان د سیونیک ښار د زنگزور په سیمه کې پرته ده چې اذربایجان او د دې هېواد یو کورواکه جمهوریت چې نخچوان نومېږي سره نښلوي او ۴۳ کیلو متره اوږدوالی لري.[2] نو ځکه د دې تړون له لاسلیک دمخه دغې لارې ته د زنگزور دهلیز ویل کېده. کله چې دغه سیمه د شوروی اتحاد په لومړیو یعنې په ۱۹۲۳ز.کال ارمنستان ته ورکړل شوه؛ نو اذربایجان د خپلې خاورې یوې برخې سره ځمکنۍ تړلتیا له منځه ولاړه. کله چې د جنوبي قفقاز په سیمه کې اذربایجان له ارمنستان څخه د قره باغ سیمه د ۲۰۲۰ز.کال جگړې پر اساس وگټله؛ د جگړې د پای ته رسیدو د هوکړه لیک په ۹ ماده کې راغلي وو (( په سیمه کې به ټولې اقتصادي او ټرانزېټي لارې بېرته پرانېستل کېږي، د ارمنستان جمهوریت باید د آذربایجان جمهوریت د لویدیځو سیمو او د نخچوان کورواکه جمهوریت ترمنځ د ټرانسپورټي اړیکو خوندیتوب تضمینوي، چې د دواړو خواوو اوسېدونکي، وسایط او کارگو په ازادانه توگه تگ او راتگ وکړي)).3 داچې دغه هوکړه لیک د دواړو لوریو ترمنځ د مسکو په منځګړتوب لاسلیک شوی وه؛ خو تر دې دمه د دې مادې د عملي کولو په برخه کې ښکیل لوري هوکړې ته نه وه رسېدلي؛ داچې په سیمه کې امریکا متحده ایالات هڅه کوي چې په اوکراین کې د روسیې د بوختیا له امله خپل نفوذ زیات کړي او له بل لوري دغه هېواد هڅه کوي د نوبل سولې جایزې لپاره د دې هېواد ولسمشر نوماند کړي؛ نو ځکه یې هلې ځلې پیل کړې چې د جنوبي قفقاز په سیمه کې اذربایجان او ارمنستان ترمنځ پخوانۍ دښمنۍ پای ته ورسوي چې بالاخره یې د روان کال د اگسټ میاشتې په اتمه نېټه په دې برخه کې بریالی کېږي او دغه هېوادونه د یوه امتیاز په توگه دزنگور دهلیز د امریکا د ولسمشر په نوم نوموي. داچې د امریکا متحده ایالات د دې هوکړې پر اساس په سیمه کې کوم امتیازونه ترلاسه کوي؟ او د دې ترڅنگ د دې لارې جوړېدو په اړه د ایران دریځ څه دی او د دې هېواد کومې اندېښنې را پاروي؟ هغه پوښتنې دي چې هڅه شوې په دې تحلیل کې ورته جوابونه وموندل شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د متحده ایالاتو، ترکیې او اذربایجان لپاره د نړیوالې سولې او هوساینې لپاره د ټرمپ لار اهمیت

په متحده ایالاتو کې د اذربایجان ولسمشر الهام علي اف، د ارمنستان لومړي وزیر نیکول پاشینیان او د امریکا ولسمشر له لوري په لاسلیک شوي هوکړه لیک کې نه یوائې داچې دغه لار د ټرمپ په نامه نومول شوې؛ بلکې د جوړېدو هوکړه یې هم له متحده ایالاتو سره شوې او دغه لار یې د ۹۹ کالونو لپاره متحده ایالاتو ته په انحصاري توګه ورکړې او ان تر دې چې په هوکړه کې راغلي چې دغه موده د تمدید وړ هم ده. د لارې په جوړولو کې به امریکایي، اروپایي او ترکي شرکتونه کار کوي او دغه سیمه کې به د ریل پټلی، سړکونه، د انرژۍ پایپ لاینونه او مخابراتي شبکې جوړې کړي.[4] داچې دغه هوکړه لیک د اوږدې مودې لپاره دی؛ نو پر دې اساس به متحده ایالات د شوروي اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې چې د قفقاز په سیمه کې پراته دي خپل نفوذ پراخ او په سیمه کې به د روسیې مخه ډب کړي، سربېره په سیمې د امریکایي کمپنیو او شرکتونو شتون به د ایران د ځارنې لپاره متحده ایالاتو او ان اسراییلو ته ښه فرصتونه برابر کړي. سر بېره پر دې د دې لارې پر اساس به اذربایجان د نخچوان سیمې سره ونښلي. داچې د نخچوان سیمه له ترکیې سره ګډه پوله لري؛ نو ترکیه چې د ناټو غړی هېواد دی وبه وتوانیږي چې د دې لارې په مرسته، پرته له دې چې د ایران خاوره وکاروي او دې هېواد ته د ټرانزیټ محصول ورکړي، مسقیما له اذربایجان او له دې لارې په مرکزي اسیا کې له ترک نژاده نړۍ سره وصل کړي، چې دغې موخې لپاره دواړو هېوادونو ډېرې هلې ځلې کړي او ان تر دې چې په صراحت سره یې په دې برخه کې د ګډو هڅو د ترسره کولو یادونه کړې ده، په دې اړه د اذربایجان ولسمشر الهام علي اف د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردغان سره په ۲۰۲۱ز.کال کې د یوه ګډ خبري کنفرانس په ترڅ کې داسې ویلي: " ترکیه او آذربایجان دواړه به د زنګزور دهلېز د د رامنځته کېدو لپاره اړین ګامونه پورته کړي ... چې ټوله ترک نژاده نړۍ سره متحده کړي ".5 پر دې اساس به دا دهلېز به د ترک نژاده هېوادونو لکه قزاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، او قرغزستان ترمنځ د اړیکو د پراختیا لپاره فرصت رامنځته کړي. څرنګه چې ترک نژاده هېوادونه یو واحد اقتصادي، کلتوري او ان د سیاسي بلاک جوړولو هڅې کوي؛ نو له نړیوالو لویو قدرتونو د پاملرنې جلبولو لپاره د دغو هېوادونو د ظرفیتونو پراختیا لاملېږي. دغه دهلیز به د قفقاز جیوپولېټیک پوتانشیل لا زیات کړي او د دې سیمې په ځانګړې توګه اذربایجان او ترکیه به د ایران پر ځای د مرکزي اسیا ـ اروپا او ان تر دې چې د چین ـ اروپا د نښلونې په ارتباطي پلونو بدل شي. چین هم د دې دهلېز جوړېدلو ته لېواله دی، چین اوسمهال له ګرجستان څخه د جنوبي قفقاز او اروپا د نښلوونکي په توګه ګټه پورته کوي، که چېرې دغه دهلېز جوړ شي؛ نو دا به په جنوبي قفقاز کې د چین لپاره یوه بدیله لاره هم وي، د ناګورنو قره باغ له وروستۍ جګړې وروسته چې په ۲۰۲۰ز.کال کې ترسره شوه؛ په اذربایجان کې د چین سفیر Guo Min ګومین وویل چې زنګزور دهلېز د چین د "یو کمربند یوه لار" ټرانسپورټي پروژه کې به ارزښتناکه نقش ولري6. تر ډېره بریده چین په دغه سیمه کې خپلو اقتصادي ګټو او ټرانسپورټي اسانتیاوو


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ته پاملرنه کوي او په هغو سیاسي او امنیتي مسایلو چې په دې سیمه کې د ټرمپ لار د جوړېدو پر اساس د متحده ایالاتو او ایران او هم د متحده ایالاتو او روسیې ترمنځ رامنځته کېږي، ورته مهم نه ښکاري او ځان په کې نه ښکیلوي؛ نو پر همدې اساس چین د پورته ټکو په نظر کې نیولو پر اساس د دې لارې جوړېدو ته خوښ دی، ترڅو د دې لنډې لارې پر اساس له اروپا سره ونښلي.

### د ارمنستان دریځ

په جنوبي قفقاز کې ارمنستان له نورو هېوادونو څکه کمزوری دی چې له یوې خوا یې له اذربایجان سره ۳۵ کلنه دښمني روانه وه؛ د همدې دښمنۍ پر اساس دغه هېواد د خپلو دوه مخکښو ګاونډیو (ترکیې او اذربایجان) له لوري په اقتصادي محاصره کې لوېدلی وو، له بلې خوا دغه هېواد تر ډېره بریده د روسیې تر نفوذ لاندې وو او له روسیې سره د ګډ امنیتي سازمان کې غړیتوب هم لري، دغه سازمان چې په ۱۹۹۲ز.کال کې د روسیې په مشرۍ رامنځته شو یوه موخه یې په ډله ییزه توګه د غړو هېوادونو د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او حاکمیت ساتنه او د بهرني تېري په مقابل کې له غړي هېواد څخه په ګډه دفاع کول دي.7 سربېره پر دې په دغه هېواد کې د روسیې د نظامې اډو شتون؛ هغه موارد دي چې دغه هېواد یې په د روسیې تر نفوذ لاندې په انزوا کې ساتلی وه؛ نو څکه په اقتصادي برخه کې کمزوری دی؛ دغه لار به د دې لامل وګرځي چې د ګاونډیو هېوادونو سربېره د سیمې له نورو هېوادونو سره یې سیاسي اړیکې ورغېږي او د دې پروژې په جوړېدو به دغه هېواد د ټرانسپورت، زیربناوو، کاري فرصتونو د زیاتوالي او فني او تکنالوژیکي برخو کې ګټه ترلاسه کړي. سربېره پر دې به له ترکیې او اذربایجان پرته له نورو هېوادونو سره د دې هېواد اړیکې پراخې شي او په مرسته به یې دغه هېواد په تدریجي توګه د روسیې له نفوذ څخه ځان خلاص کړي. د یادونې وړ ده چې له دې مخکې هم دغه هېواد هڅه کړې چې د روسیې له مدار څخه ځان خلاص کړي او لویدیځې نړۍ په ځانګړې توګه اروپایي اتحادیې او امریکا متحده ایالاتو ته ځان نږدې کړي. چې ښه بېلګه یې په دې نږدې وختونو کې اوکراین ته د ارمنستان له لوري بشردوستانه مرستو استول چې له زرو زیات سمارټ مبایلونه، کمپیوټرونه او ټبلیټونه شامل وو.8 سربېره پر دې یې د امریکا متحده ایالاتو سره د ۲۰۲۳ز.کال د سمپټمبر میاشتې له ۱۱ نېټې څخه تر ۲۰ نېټې پورې پوځي تمرینونه د Eagle Partner 2023 په نوم ترسره کړل چې په کې ۸۵ امریکایي سرتېرو او ۱۷۵ ارمني سرتېرو برخه اخیستې وه.9 له دې ور ا خوا د ارمنستان د لومړي وزیر ورستۍ څرګندونې هغه څه دي چې دغه هېواد غواړي د روسیې له نفوذ څخه ځان خلاص کړي؛ نو موړي په دې اړه ویلي: (( له روسیې سره د دې هېواد امنیتي هوکړه لیک بې اغېزې دی او هغه بهرنی امنیتي سیستم چې ارمنستان په کې ښکېل دی د دې هېواد د ملي امنیت او ملي ګټو د خوندي کولو لپاره ګټور نه دی)).10 د دې یادونه هم اړینه ده چې د ارمنستان پارلمان د ۲۰۲۳ز.کال د اکتوبر میاشتې په دریيمه نېټه د بین المللي جنایي محکمې غړیتوب ترلاسه کول تصویب کړ.11 د دې غړیتوب په ترلاسه کولو سره دغه

هېواد د جنايي بين المللي محكمې د اساسنامې پر پلي كولو مكلف ګڼل كېږي. د دې محكمې د اساسنامې د احكامو پر اساس كه چيرې په جنګي جرمونو تورن له غړو هېوادونو څخه يوه هېواد ته داخل شي نو دغه هېواد يې په تعقيب او نيولو مكلف دی. جنايي بين المللي محكمې د ۲۰۲۳ز.كال په مارچ مياشت كې په اوكراين كې د جنګي جرايمو د ترسره كولو په تور د روسيې د ولسمشر ولادېميرپوتين د نيولو حكم صادر كړی.12 كه چيرې د جنايي بين المللي محكمې د اساسنامې د لازم الاجرا والي له نېټې وروسته د روسيې ولسمشر ارمنستان ته سفر وكړي؛ نو دغه هېواد يې په نيولو او محكمې ته په سپارلو مكلف ګرځي.

## د نړيوالې سولې او هوساينې لپاره د ټرمپ لار په اړه د ايران دريځ

په سپينه ماڼۍ كې د ډونالډ ترمپ په منځګړتوب د ارمنستان او اذربايجان د دوستي هوكړه ليک له لاسليک وروسته د ايران د بهرنيو چارو وزارت په دې اړه يوه اعلاميه خپره كړه او په كې راغلي دي چې ايران په جنوبي قفقاز كې وروستي بدلونونه له نږدې څاري او له دواړو هېوادونو (ارمنستان او اذربايجان) سره په اړيكه كې دی. په دې اعلاميه كې يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سولې د هوكړه ليک ستاينه كړې او له بلې خوا يې په سيمه كې د هر ډول بهرني لاسوهنې چې په هر شكل وي په ځانګړې توګه د ګډې پولې ترڅنګ چې د دوی له نظره د سيمې دايمي امنيت او ثبات له ګواښ سره مخ كوي، اندېښنه څرګنده كړې ده. په دې اعلاميه كې يې د تړلو لارو د بيا خلاصولو هركلی كړی، خو څرګنده كړې يې ده چې دغه لارې بايد د متقابلو ګټو، ملي حاكميت او جغرافيوي قلمرو ته په درناوي او د بهرنيو لاسوهنو پرته پرانېستل شي. او په پای كې يې له دواړو هېوادنو سره د دوه اړخيزو او ۳+۳ په چوكاټ د همكاريو ترسره كولو ژمنه كړې ده.[13] د اعلاميې له متن ښكاري چې ايران په سيمه كې د بهرني لاسوهنې مخالفت كړی او موخه يې سيمې ته د امريكا متحده ايالاتو نفوذ پراخېدل دي چې د دې هوكړه ليک پر اساس ورته د دې لارې د جوړېدو قرارداد په انحصاري توګه د ۹۹ كالونو پورې وركړل شوی دی، ايران فكر كوي چې په اوږد مهاله توګه لكه څنګه چې د سولې هوكړه ليک كې پرې توافق شوی دی، له جنوبي قفقاز سره د دې هېواد د ګډې پولې په اوږدو كې متحده ايالات شتون ولري نو دا به د دې سيمې امنيت وګواښي. ايران اندېښنمن دی چې د دې هوكړه ليک لمخې په سيمه كې د امريكا متحده ايالاتو ستراتېژيک نفوذ پراخېږي، په دې سيمه كې به د تركيې په همكارۍ د ناټو نفوذ پراخ كړي. سربېره پر دې به داچې له يوې خوا اذربايجان له پخوا را هيسې له اسراييلو سره ښې اړيكې ټينګې كړې وې؛ نو دغه اړيكې به په سيمه كې د متحده ايالاتو په هڅونې لا پياوړې شي او دې ته به فرصت برابر كړي چې اسراييل له دې فرصت څخه په ګټې اخيستنې ايران وګواښي. د اعلاميې د متن په بله برخه اقتصادي ګټو ته هم اشاره شوې، ايران څكه اندېښمن دی چې دغه هېواد اوسمهال د اذربايجان د نخچوان سيمې ته د ګازو د لېږد سربېره د اذربايجان نور امكانالات هم له د ايران له لارې ترسره كېږي چې دغه هېواد يې ترانزيټي محصول ترلاسه كوي؛ نو د دې لارې په جوړېدو ترې بې برخې كېږي،



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سرببره پر دې د دې هېواد جيوپوليټيک پوټانيشيل په نړيواله او سيمه ييزه کچه اغېزمنوي؛ ځکه چې د دې لارې په جوړېدو سره د مرکزي اسيا انرژي د همدې لارې په ګټې اخيستنې ترکيې او له هغه ځايه اروپايي بازارنو ته رسيږي، چې پخوا دغه چاره د ايران له خاورې څخه په ګټې اخيستنه ترسره کېده. د اعلاميې په وروستۍ برخه کې ددوه اړخيزو خبرو اترو او د د ۳+۳ يادونه شوې ده، ايران ټينګار کوي چې د سيمې مسايل بايد د دوه اړخيزو خبرو او د اذربايجان، ارمنستان او ګرجستان او همدارنګه د ترکيې، ايران او روسيې له لارې حل شي. هغه وړانديز چې له کلونو را په دې خوا پرې دغه هېواد ټينګار کوي؛ خو ۳+۳ هېوادونه هيڅکله نه دي توانېدلي چې د جنوبي قفقاز په مسايلو کې پرېکنده رول ولوبوي؛ چې ښه بېلګه يې د قره باغ شخړه ده چې د کلونو کلونو راهيسې د دې سيمې هېوادنه ونه توانېدل چې دغه موضوع حل کړي. د جنوبي قفقاز هېوادونه په سيمه ييز اتحاد چې د ۳+۳ په چوکاټ کې وړانديز کېږي، بې باوره شوي؛ نو ځکه هڅه کوي چې له سيمې هاخوا د لويديځو هېوادنو لمن ټينګه کړي.

**پایله**

له يوې خوا متحده ايالات هڅه کوي چې د روسيې اوکراين له جګړې اعظمي ګټه پورته کړي؛ له کله راهيسي چې روسيه په اوکراين کې بوخته ده؛ نو متحده ايالاتو په جنوبي قفقاز کې د نفوذ د زياتوالي لپاره بېلابېل اقدامات ترسره کړي دي چې ښه بېلګه يې د ارمنستان او اذربايجان ترمنځ د سولې نهايي هوکړه دی. پر دې اساس متحده ايالاتو وکولای شول چې په سيمه کې خپلې کمپنۍ او شرکتونه د اوږدې مودې لپاره ځای پر ځای کړي او په مرسته يې په سيمه کې د ايران او روسيې اقدامات له نږدې وڅاري او هم په سيمه کې د ايران او روسيې اقتصادي او ټرانزيټي ګټې محدودې کړي. له بلې خوا د متحده ايالاتو ولسمشر هڅه کوي چې د سولې نوبل جايزه ترلاسه کړي او دغه ډول پخلاينې او د سولې هوکړه ليکونه لاسليکول د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره ځانګړې فرصت ګڼل کېږي. د دې لارې جوړېدل نه يواځې داچې د ايران جيوپولېټيکې مزاياوو باندې منفي اغېزې کوي، بلکې دغه هېواد د بهرنيو لاسوهنو له امله په امنيتي توګه هم اغېزمن کېږي. په عمومي توګه د دې لارې ګټې دوه ښکيلو اړخونو (اذربايجان او ارمنستان) او متحده ايالات ترلاسه کوي. ارمنستان د لويديځ سره نږدې کوي، له سيمې ييزې انزوا څخه خلاصېږي او د روسيې له نفوذ څخه د خلاصېدو فرصت په لاس ورکوي، په ورته توګه په سيمه کې د اذربايجان جيوپولېټک اهميت زياتېږي او له خپلې بيلې شوې خاورې سره مستقيم تړاو رامنځته کوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## ماخذونه

1 Reuters, Trump announces peace agreement between Azerbaijan and Armenia, published date: August 9, 2025, available at: https://www.reuters.com/world/trump-announces-peace-agreement-between-azerbaijan-armenia-2025-08-08/

2 Khalid Taimur Akram, Zangezur corridor: A pathway for peace, The Azarbaijan State News Agency, published date: 27/11/2023, available at: https://azertag.az/en/xeber/zangezur_corridor_a_pathway_for_peace-2834743.

3 The Prime Minister of Republic of Armenia, Press Release, Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation, published date: 10.11.2020, access date: 10.14.2023, available ate: Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation - Press releases - Updates - The Prime Minister of the Republic of Armenia

4 The News Arab, What is Trump's TRIPP corridor and how does it affect MENA?, published date: 13/Agust/2025, available at: What is Trump's TRIPP corridor and how does it affect MENA?

5 Michael, Rubin, the National Interest, Why Turkey and Azerbaijan Won't Get a Corridor Across Armenia, published date: November 9, 2021, access date: 10/14/2023, available at: Why Turkey and Azerbaijan Won't Get a Corridor Across Armenia | The National Interest

6 Ramani, Samuel, How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics, foreign policy, published date: Oct/25/2023, available at: How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics – Foreign Policy.

7 SCTO official web page, online link : About SCO | SCO (sectsco.org).

8 The New Voice of Ukraine, Armenia officially delivers humanitarian aid to Ukraine, published date: September 8, 2023, access date: 10/5/2023, available at: Armenia officially delivers humanitarian aid to Ukraine (yahoo.com)

9 Reuters, Armenia to exercise with US troops next week in sign of frustration with Russia, published date: September 6, 2023, access date: 10/5/2023 available at: Armenia to exercise with US troops next week in sign of frustration with Russia | Reuters

10 DW, Armenia PM Signal's foreign policy shift away from Russia, published date: 09/24/2023, access date: 10/5/2023, available at: Armenia PM signals foreign policy shift away from Russia – DW – 09/24/2023 .

11 Aljazira, Armenia to join International Criminal Court; 'wrong' decision, says Russia, published date: 3 Oct 2023, access date: 10/5/2023, available at Armenia to join International Criminal Court; 'wrong' decision, says Russia | ICC News | Al Jazeera

12 The guardian, ICC Judges issue arrest warrant for Vladimir Putin over alleged war crimes, published date 17/March/2023, access date 10/5/2023, available at: ICC judges issue arrest warrant for Vladimir Putin over alleged war crimes | Vladimir Putin | The Guardian .

13 وزارت خارجه جمهوري اسلامي ايران، بیانیه وزارت امور خارجه جمهوری اسلامی ایران در خصوص تحولات منطقه قفقاز، تاریخ نشر:۱۴۰۴/۵/۱۸،

لینک دسترسی: وزارت امور خارجه جمهوری اسلامی ایران- بیانیه وزارت امور خارجه جمهوری اسلامی ایران در خصوص تحولات منطقه قفقاز

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000